مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۶/۱۱/۱۱

غـزل

ستا د سترګو په جادو کښې لا تر اوسه ګرفتار یم
ستا د مینې په لمبو کښې هره شپه زه بې‌قرار یم

چې دې نوم د شپې خاموشه, خاموشی کښې راپه زړه شي
له خپل ځان نه هم پردی شم، ستا د مینې طلبګار یم

ستا موسکا چې مې د زړه پر وچه دښته را په زړه کړم
بې له تا یو وچ خزان یم، ستا په مینه تل بهار یم

ستا د زلفو په تیارو کښې مې دنیا ده هېره کړې
زه په دې ښکلې احساس کښې زنګیدلی شان خمار یم

که دې سترګې راته خاندي، ژوند به بیا شي راته ښکلی
ستا د یوې موسکا لپاره زه ټول عمر انتظار یم

نه مې خوب او نه سکون شته, ستا یادونه او پسرلی دی
زه د ژوند په هره ساه کښې، ستا د مینې یو یادګار یم

مصطفی پسرلی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ